مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

افغان گل بي گناه ۲۰۱۹/۰۷/۲۹

# پاس په باره کې اوبه ګډې ودې ځينه
# شينواری لونګينه

د زمري پنځمه د جمهوري رياست د ټاکنو کمپاين رسماً پيل شو. که څه هم دغو ټاکنو لپاره څو مياشتي وړاندي ۱۸ کسانو ځانونه نومولي او دفترونه يي پرانستي وو او په دې دفترونو کې تراوسه په سلګونو زره ډالر بهرنی پيسي ښکته پورته شوې دي، خو تر دې وروسته کېدای شي نوري بي تولـه پيسي هم د بهرنيو سفارتونو له خوا ورتوی شي. د ټاکنو لپاره پخپله کانديدان او جګړه غوښتونکي کورنی او بهرنی کړی خوښ دي، خو نور ټول خلک په يوه غږ سوله غواړي او وايي چي بايد ټاکني دې تر سولي وروسته وشي.

همدا اوس د سولي خبرې رواني دي او طالبانو ويلي چي په هېواد کې د بهرنيو ځواکونو په شتون کې ټاکني ورته د منلو وړ نه دي، که نه له دې پرته په ټاکنو کې ګډون کوي او له دې سوله بيزې لاري غواړي چي واک او حکومت ته ورګډ شي. دا خورا مهمه ده، د سولي خبرې څومره چي ژر کېدای شي سوله او اوربند هېواد ته راولي او جګړه پای ته ورسېږي. ځکه همدا اوس لړ تر لړه د ورځې د ۱۰۰ نفرو په شاوخوا کې له امنيتي ځواکونو، سل نفره هم له طالبانو او په همدې کچه ملکي تلفات لرو، اوس چي جګړه څومره هم ژر دربېږي، نو هومره ورسره د افغانانو ژوند ژغورل کېږي.

دا په داسي حال کې ده چي تر سولي مخکې د ټاکنو ترسره کېدل به هر څه ګډوډ کړي او د جګړې د دوام په معنا به وي.

تر کوم ځايه چي څرګنده خبره ده، که له ټاکنو وروسته طالبان له امريکې سره هوکړې ته رسېږي او د هوکړې يو شرط له افغان حکومت سره د سولي خبرې دي، که دغه خبرې پيلېږي، نو طالبانو له وړاندې ويلي چي اوسنی ټاکني نه مني او هغه ټاکني ورته د منلو وړ دي چي بهرني ځواکونه له هېواده وتلي وي، يو منځ مهالي حکومت واګي په لاس کې اخستي وي، په اساسي او ټاکنو قانون کې اړين بدلونونه راولي او ورسره د دوو پورتنيو قانونونو نيمګړتياوې ورپوره، بيا رنو ټاکنو له لارې حکومت رامنځته، تر څو ورسره د يوه باثباته نظام پر لور تولني ته حرکت ورکړل شي.

که چېرې اوسنی ټاکني ترسره شي، نو د پنځو کلونو لپاره رامنځته شوی حکومت قانوني وخت لري او که چېرې حکومت پښه بنده کړي هيڅوک يي هم لرې کولای نه شي او د پنځو نورو کلونو لپاره سوله شاته غورځي او د خلکو وخت تلف کېږي.

دا په داسي حال کې ده چي اوسنی نظام په بشپړ ډول له ازمابښته ناکامه راوتلی او د تېرو ۱۹ کلونو چاروا‌کي يي ډېری پر فساد رووږدي دي، لکه څنګه چي حکمتيار وايي دغه ټول نظام د يوه کس پر وينو هم نه ارزي، نو که د پنځو نورو کلونو لپاره اوږدېږي او جګړه دوام کوي، نو په دې کلونو کې کم تر کمه د ۴۰۰ زره په شاوخوا کې د افغانانو د مړيني سبب کېدای شي.

روښانه خبره ده او ټول ولس په دې پوهېږي چي دا مړی په دې ژړا نه ارزي.
ځکه که افغان ولس د يوه کانديد د واک او يا حکومت لپاره د دومره ډېرو تلفاتو خطر پرځان مني بايد په دې وارزي، خو دا په داسي حال کې ده چي يو کانديد هم چمتو نه دی چي ولس ته د دغو خطراتو او تلفاتو د منلو په بدل کې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

تضمین ورکړي چي پنځه کاله وروسته به هېواد په کوم ځای کي وي او یا لااقل په دې پنځو کلونو کي به یوه ستنه جوړه کړای شي که نه؟

که څه هم چي وايي له بهرامه ښادي حرامه ده، بیا هم افغان ولس له واک سره د کاندیدانو لېوالتیا او حرص له نږدې څاري او کومه تمه ترې نه کوي او هغه کسان چي ځانونه د قومونو او ډموکراسۍ ټېکه داران ګڼي د دې لپاره چي پیروان او باډي ګاردان یې نور پرې ونه غولېږي ورځخه و دې غواړي چي ایا حاضر دی د سولې لپاره له خپلې کاندیداتورۍ او واکه تېر شي؟

خبره څرګنده ده، هېڅکله به دوی د عامه مصالحو او ګټو لپاره له خپلو شخصي ګټو تېر نه شي، لکه څنګه چي پخوا نه دي تېر شوي او دغه هېواد یې د بربادۍ او فساد کندې ته غورځولی، نو خامخا دوی به د عامه افکارو او غوښتنو په وړاندې درېږي او خلک به مجبورېږي تر څو دوی په زور له خپلې لارې لرې کړي.
له بلې خوا، که طالبان له ټاکنو سره هوکړه ونه لري نو هرو مرو به تر خپل واک لاندې سیمو کي د ټاکنو مخنیوی وکړي او هم به کمپاینې غونډې او د رایو ورکولو مرکزونه تر بریدونو لاندې راولي او په دې توګه به ټاکنې بله پلمه وي چي د جګړې تر څنګ له ولسه قرباني واخلي.

که قدرت پالان له ټاکنو او واکه نه تېرېږي نو بهرنیو جګړه پالو کړیو ته به هم زمینه برابره شي چي خپل شتون او جګړې ته دوام ورکړي او خپله هر نادوده او ناکرده د دغه تبجن سیاسي چاپېریال له لارې توجیه کړي.
دغو ټولو څرګندولو ته په کتو، برحاله نظام نه دا چي په ۱۹ کلونو کي ونه کړای شول د هېواد ستونزې هواري کړي، بلکي پخپله په یوه ستونزه بدل او نبنه شوی او د بدلولو سخته اړتیا یې لیدل کېږي.
دلته به د ولس او طالبانو ترمنځ تعامل څه وي؟ ولس وسله او زور نه لري، خو نور هر څه له حکومتدارۍ لپاره لري، طالب بیا وسله او زور لري، خو حکومتدارۍ لپاره پوره کادرونه نه لري، دلته اړتیا رامنځته کېږي چي په دې کار کي ولس او طالبان لاسونه سره یوکړي، د برحاله نظام جرړې له بېخه وباسي او راتلونکی نظام په ګډه سره جوړ کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ